PalArch's Journal of Archaeology of Egypt / Egyptology

# NOTION AND CONCEPT OF PEACE IN IKRAM ULLAH GRAN'S POETRY
# دَ اکرام الله گران په شاعری کښي دَ اَمن تصور اؤ تفکر

*Dr. Shukria Qadir*

Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, KP, Pakistan

**Dr. Shukria Qadir. Notion And Concept Of Peace In Ikram Ullah Gran's Poetry دَ اکرام الله گران په شاعری کښي دَ اَمن تصور اؤ تفکر Journal Of Archaeology Of Egypt/Egyptology 20(1), 1144-1148. ISSN 1567-214x**

**Keywords: Peace, Society, International, Region, Security, Poetry.**

## ABSTRACT
Peace is the name given to a state of society where all issues are at odds with each other. The concept of peace is also interpreted as healthy, positive international or inter-human relations in some situations. Achieve social, economic, equality and political rights and protection for all people in the region. In international relations, in times of peace, conflicts are interpreted differently. Destroying peace in general includes elements such as insecurity, social deterioration, economic inequality, inconsistent political situation, nationalism and racism.

The general definition of peace includes many meanings. Among them, peace as a whole is also known as security, prosperity, freedom, defense, fortune and welfare. Individually, peace refers to the concept of a non-violent way of life, which is characterized by honor, justice and good intentions. The state of peace in an individual society applies equally to every individual, while the whole society of any region as a whole is meant.

In different languages of the world, the word peace or security is also used as welcome or farewell words. For example, the Hawaiian word Aloha or the Arabic word salam means peace or security. These words are used as farewell or welcome words. In English, the word PEACE is used in farewell words, especially a phrase for the dead, such as, Rest in Peace.

Poetry on the theme of peace is found in every language of the world. Pashtun poets have also expressed their views on the subject of peace. One of them is Mr Ikram ullah Gran in these poets. He has spoken well on the subject of peace in his poetry. In this article, these verses are highlighted, in which he has tested the nature of peace.

اروښاد اکرام الله ګران دَ پښتو ژبې يو پُرګو شاعر دے. هغه ديو ښېرازه فکر او رنګين تخيل څښتن وو، دډېر خاموشه ژوند تېرولو نه پس څو کاله وړاندې ئې دَ رنګ و بو د دې جهان نه رحلت وکړو. هغه په پښتو شعرى ادب کښې يو پېژندلے شاعر دے. دَ اشنغر په ادب خېژه خاوره ئې سترګې غړولې دي. اؤ دغلته دَ جندى په پاکو او سپېڅلواوبو لوے شوےدے.

ستر ليکوال او محقق ښاغلے همېش خليل د اکرام الله ګران د زوکړې او د شاعرئ د ابتداء په حقله ليکي

" ګران د چارسدې تحصيل په پړانګ ياسين زئ نومې کلي کښې د فضل الرحيم ميا کره په نومبر ۱۹۴۱ ء کښې زېږېدلے دے. تعليم سره د دلچسپئ نه لرلو په وجه د اتم صنف کولو نه پس وړاندې تعليم ئې ونکړے شو. څواني ئې د خپلو پټو په ذميدارئ کښې تېره کړه. د شاعرئ ابتداء ئې په کال ۱۹۴۹ء د يوې المناکې حادثې په پېښه د خواړه تراخه په يو نظم ليکلو نه وشوه. " ۱

يو بل پوهان د ګران د شعري هنر په لړ کښې داسې رقمم طراز دے.

" اکرام الله ګران شمار د شلمې اؤ يوويشتمې صدئ په يو څو هغه لويو پښتنو شاعرانو کې کېږي چې د جديد ادب په وده کې يې لويې لاس دی په طبعيت ډېر ساده خو په فکر لوړ اکرام الله ګران چې څومره نظمونه اؤ غزلې ليکلي هغې کې زياتره د شهرت معراج ته رسيدلي.دهغۀ پلار د علاقې مشر او نوموړې ادبي، علمي شخصيت و اؤ د ګران بابا ادبي روزنه هم د هغۀ پلار کړې وه" ۲

هسې خو اکرام الله ګران پخپله شاعرئ کښې يو شمېر موضوعات رانخښتي دي. اؤ په دغه موضوعاتو ئې ښه په خلاص مټ ليکل کړي دي. چې دَ معيار اؤ مقدار دواړه له مخه دَ ډېر آرزښت اؤ اهميت وړدي. هم دا وجه ده چې دَ هغه شاعري په عوامو اؤ خواصو کښې يو شان مقبول ده. دَ نېکمرغئ نه دَ هغه دَ شاعرئ زياته برخه غنائيت اؤ موسيقيت لري. چې دَ خپل عصر نامتو ګُلو کارانو اؤ سندرغاړو په ټې. وي، ريډيو او عوامي محفلونو کښې د سازونو او سرونو سره زمزمه کړي دي.

اخون زاده فرمان مسافر د اکرام الله ګران د فن او شخصيت په ترڅ کښې ليکي.

"ګران هم په دغه کسانو کښې شمار دے چې شاعري ئې په نازک خيالئ کښې د ځان ثانی نه لري، د خوے خصلت په لحاظ دا فرشته صفت انسان يو قادرالکلام شاعر دے. چې د پښتو غزل په نوي کېنوس کښې د اچولو دپاره ډېر رياضت او خواري کوي . خپل ټول صلاحيتونه ئې ددې د ارتقاء دپاره پکار راويستي دي. "۳

دلته دا خبره دَ يادونې وړ ده. چې اکرام الله ګران بنيادی طور دَ غزل شاعر دے. بلکې دَ غزل اُستاد شاعر دے. اؤ دَ غزل خاصه دا ده چې دې کښې دَ شاعر قلبی واردات دَ جمالياتی رنګونو سره شعر کېږي. ځکه نو دَ هغه شاعرئ دَ غزل په رنګ کښې دَ هغه دَ جمالياتی حِس اؤ دَ مينې دَ شديد جذباتو نه عبارت ده. په دغه اساس زياتره خلق اکرام الله ګران يو رومانې اؤ حُسن پرست شاعر ګڼي.

سره د دې چې دغه خبره تر څه حده سمه ده. چې هغه پخپله شاعرئ کښې دَ محبتونو بلها رنګونه راغونډ کړي دي. اؤ په دغه موضوع ئې پرېوانه شاعرى تخليق کړې ده. ولې د دغې يو ې موضوع نه علاوه هغه په څنو نورو مهمو موضوعاتو هم دَ خپل خيال نيلي زغلولي دي. چې يو ه موضوع پکښې دَ ''اَمن'' هم ده.

د لغت القاموس الفريد له مخه امن د عربئ ټکے دے او لغوي معني' ئې ده

" سلامتيا،قلاري او حفاطت " ۴

هم دا رنګې په فېروز اللغات کښې د امن ټکي ته داسې معني ليکلې شوې دي -

"چين ،اطمينان،سکون وآرام ،سکوت وطمانيت ،صلح ،آشتی" ۵

### *The Encyclopedia Of Religion* **د امن په لړ کښې ليکي**

“In ancient Hebrew Thought, peace (shalom) was not only the absence of war but wellbeing if not prosperity. A famous passage which appears twice in “Bible” describes all nations going to Jerusalem to learn the divine laws, beading their swords into plow shores and their spears into pruning abandoning their swords, and learning was no more “Micah”adds that every man would sit under his vine and fig tree, and ideal picture of a small land holders tiny state between rival superpowers.

In expectation of a better future the ideal “Savadie king” is called prime of peace and his government is described as having boundless dominion and peace.

To the Israelites peace was social concept. It was visible and produced a harmonious relationship in the family in local society and between nations" [۶]

ترجمه: د لرغونو عبرانیو په نزد د امن معنيٰ صرف د جنګ ختمول نه وو. نوکه سوکاله نۀ وه نو کم ازکم دیوې فلاحي ټولنې قیام خو ضرور وو ـ یو مشهور عبارت چې په انجیل کښې دوه ځله وارد شوے دے ـ دهغې ترمخه چې کله ټولو قامونو د شریعت د زده کړې دپاره یروشلم ته هجرت کولو ـ نو په دغه اوان هغوئ د خپلو تورو نه ایوې او د خپلو نېزو نه تبرونه جوړ کړل ـ جنګي هنرونه ئې پرېښودل ـ "میکاه" پکښې دا اضافه کړې ده چې هر وګړے به د انځر اود انګور د بوټي لاندې په امن او سکون ناست وه ـ او کم حیثیته کرونده ګر به د لویو لویو جاګیردارانو سره په امن او سکون اوسېدل ـ د یو خوشحاله مستقبل ګټلو دپاره د هلو ځلو په ترڅ کښې به ئې "صیودي "باچا ته د امن شهزاده وئیلو دغه شان د هغه پرامنه حکومت د لرې لرې پورې خور شوې وو ـ د بني اسرائیل په نزد امن یوجوت ټولنیز تصور موجود وو ـ هم له دې امله دمختلفو ټبرو او قامونو په مېنځ کښې ښې اړیکې جوړې شوې وی ـ
د جوبن ګلټنک د وینا ترمخه

***Peace is the absence of physical and structural violence.*** [۷]

ترجمه: امن د بدني او ساختي تشدد عدم موجودګي ده.
دغه شان البرټ ائن سټائن د امن د تعریف په لړ کښې وائي

***Peace is not merely the absence of war but the presence of justice, of law, of order in short, of government.*** [۸]

ترجمه: جنګ یو داسې ځاے دے چرته چې ځوانان یو بل نه پېژني، او د یو بل نه نفرت نه کوي خوبیا هم یو بل وژني، ولې ترکومې چې د عمر خوړلو پرېکړه ده نو هغوي چې یو بل پېژني هم او دیوبل نه نفرت هم کوي ولې یوبل نه وژني.

**ګران هم په دغه فلسفه پوهه دے ځکه چې هغه هم عمر خوړلے دے، تجربه لري د په سنګر کښې ولاړ دے په خپله په کاڼو لګي ولې په بل چا ګزار نه کوي. ځکه خو وائي**

**کرامت مې دَ جنون خلقه منئ به**
**چې کوم یو کاڼی لږم بختور شي** [۱۶]
.

**د دے شعر نه څرګندېږي چې اکرام الله ګران دَجنګ په پرتله د اَمن په اړه دَ جنون تربریده ھ رسېدلے وو. خلق چې هغه د جنګ په اوان په کاڼو نو هغه ئې په ردِ عمل کښې به طېش کښې نه راځي ، بلکې وائې چې زه په کومو کاڼو لګم، هغه کاڼي زما په وجود دَ لګېدلو نه پس برکتی او بختور کېږي. ولې ددې سره سره هغه شر خوښو ته دا هم وائي چې**

**زه ئې ښائست لټوم تا امن په وینو کړو رنګ**
**ته ئې خنجر لاندې ساتې زه په ځیګر ساتمه** [۱۷]
.

**خو ددې هرڅه باوجود چې د امن دښمنان د خپلې نه اوړي نه نو ګران ورته هم په ډېر استقامت دغه یادونه کوي چې**

**بدل زه نه پرېږدم خو رنګ ئې بدل وي**
**ما سره بد کوه چې زه درسره ښه وکړه** [۱۸]
.

**ځکه چې ګران د خپلې پراخه تجربې په بنیاد د ترهه ګرو او شر خوښو د ذهنیت نه په بشپړه توګه واقف دے .**

**ويني د امن د جنت خوبونه**
**په محاذونو چې د جنګ پراته دي** [١٩]

**دلته دَ اکرام الله ګران يو څو شعرونه رانقل کووم، چې دَ هغوي دَ اَمن په حقله دَ تصور اؤ تفکر لړ نور وضاحت ترې مخې ته راشي. ګران صېب وائې!**

**هغه دهقان يم که له لوړې مرمه**
**بغېر له مينې مې بل کر نه لګي** [٢٠]

**د امن د شپونکي خوږې نغمې مې راپه زړه شوې**
**د اور په ښاريه کښې د شين غر سندرې وايو** [٢١]

**زه دَ اَمن خواږه غواړم**
**بېله لار دَ جنګه اخلم** [٢٢]

**خدايه زما وژل اسان کړے ورته**
**نن ئې دَ لاسو نه خنجر پرېوت** [٢٣]

**يو ساعت چې هم په وينو سُور نه وى غواړم** [٢٤]
**داسې سپين سحر په نمر خاته**

**هر يو غشي د ستم ته هرکلے کړي**
**مېلمه دوست زړګے مې ډک د مروت دے** [٢٥]

**څنګه بد رنګ شو دَ بد رنګو په لاس**
**دغه دَ امن دَ جنګونو دستور**[٢٦]

**د رڼا د تيرو جنګ دے د شعور په سنګرونو ښکلے فرېب دے** [٢٧]
**ګنې ما خو دا ګڼله خېر او شر**

**ماته اوس خپل دښمن هم ښکلے ښکارى**
**دَ درد څرېکو دَ زم زم په اوبو**
**مينې مې دا رنګې نظر اووينځو**
**ګران دَ قاتل دَ لاس خنجر اووينځو**[٢٨]

**هر څه دې مرى انسانيت دې نه مرى**
**له دي دنيا نه محبت دې نه مرى** [٢٩]

**دَ اکرام الله ګران د دغې شعرونو په نتيجه کښې مونږ دا وئيلې شو**
دَ اکرام الله ګران د دغې شعرونو په نتيجه کښې مونږ دا وئيلې شو!

1 ) چي هغه به خپله شاعرۍ کښې دَ نورو موضوعاتو نه علاوه دَ اَمن موضوع هم بیان کړې ده.
2 ) هغه دَ خپل عصر ترجمانی کړې ده. ځکه چي دَ اَمن، امان مسله او شخړه دَ هغه د دور یوه اهمه موضوع ده.
3 ) اکرام الله ګران دَ اَمن له خاطره پخپل ځان هره ګرانه وړلو ته غاړه ایښې وه.
4 ) هغه نه یوازې پخپله خاوره دَ اَمن غوښتونکے وۀ. بلکې دَ ټول انسانیت دپاره دَ اَمن خواهان وۀ.
5 ) هم له دې اَمله مونږ هغه ته دَ نړیوال کچ یو افاقی امن پرست شاعر وئیلې شو.

## حواله جات :


۱ : همېش خلیل ، پښتانه لیکوال ، یونیورسټي پبلیشرز پېښور، ۲۰۱۱ء، ۱۶۴ مخ
۲ : /https://morpashto.org/ikram-ullah-gran
۳ : مسافر، اخونزاده فرمان، ځلنده ستوري، مکتبه اباسین اشنغر تنګي چارسده، ۱۹۸۴ء ، ۱۲۸ مخ
۴ : عربي لغت، لغت القاموس لفرید، لاهور ، ۲۰۰۲ء ، ۲۲۴ مخ
۵ : فیراز الغات اردو لغت ،تابع عبدلاسلام پیروز سنز لاهور ،مخ ۱۲۳
۶ : The Encyclopedia of Religion v 11.p 12
۷ : https://www.researchgate.net
۸ : https://www.researchgate.net
۹ : ګران، اکرام الله، زما غزل ، ملت پرنټرز لاهور، ۲۰۰۲ء، ۱۷۷ مخ
۱۰ : هم دغه اثر ۷ مخ
۱۱ : ګران، اکرام الله ، ژوند د خیال په ائینه کښې ، عامر پبلیشرز پېښور ، ۲۰۱۵ ء، ۱۲۶ مخ
۱۲ : ژوند د خیال په ائینه کښې، از اکرام الله ګران ، ۱۳۰ مخ
۱۳ : هم دغه اثر . ۱۳۹ مخ
۱۴ : زما غزل از اکرام الله ګران ، ۴ مخ
۱۵ : https://www.riddit.com
۱۶ : زما غزل ، از اکرام الله ګران ، ۱۹۰ مخ
۱۷ : ژوند د خیال په ائینه ، اکرام الله ګران ، ۱۴۱ مخ
۱۸ : هم دغه اثر ، ۱۴۳ مخ
۱۹ : هم دغه اثر ، ۱۴۶ مخ
۲۰ : هم دغه اثر ، ۱۷۷ مخ
۲۱ : هم دغه اثر ۳۴ مخ
۲۲ : هم دغه اثر ، ۱۹۴ مخ
۲۳ : هم دغه اثر ۲۹ مخ
۲۴ : هم دغه اثر ۴۳ مخ
۲۵ : هم دغه اثر ، ۶۵ مخ
۲۶ : هم دغه اثر ۷۶ مخ
۲۷ : هم دغه اثر ، ۸۰ مخ
۲۸ : هم دغه اثر ، ۱۲۸، ۱۲۹ مخونه
۲۹ : هم دغه اثر ۲۴ مخ